نظرمحمد مطمئن ٢٠١٥/٠٧/٢٩

# د سید محمد طیب آغا د استعفی اړوند

باوري سرچينې وايي چې د طالبانو د سياسي کميسون د مشر سيد محمد طيب آغا د استعفی خبره او يا هم د هغه د واکونو د کمولو او يا واکونو مهارکولو خبره سمه نه ده، بلکي د شروع شوې پروپاګنډې برخه يې ګڼي.
په ٢٧ د جولای ٢٠١٥ خبرونه خپاره شول چې د طالبانو مشر ملامحمد عمر مجاهد مړ شوی، لومړی ځل نه و، څو ځله داخبره نشر شوې، ورسره داخبره هم رحيم الله يوسفزي کړي وه چې د طالبانود دوېم نمبر مشر د ملامحمد عمر مجاهد د نايب ملا اخترمحمد منصور واکونه به هم کم شي او يا داچې بيخي به له مشرتابه څخه ليري شي او پر ځای به يې د ملامحمد عمر مجاهد ځوی مولوي محمد يعقوب وټاکل شي.
پرون ٢٨ جولای ٢٠١٥ دادی خبرونه خپريږي چې د طالبانو د سياسي کميسون مشر سيد محمد طيب آغا له خپلي دندې استعفی ورکړې، داځکه چې په پاکستان کي د افغان حکومت د استازو سره د سولې د خبرو کولو خنډ دی.
بل خوا بيا وايي چې د طالبانو د شورا غړو پر طيب آغا فشار راوړي چې دهغه واکونه محدود کړي، ځکه هغه د سولې د خبرو د پرمختګ خنډ دی.
ربښتيا هم سيد محمد طيب آغا په پاکستان کي د پاکستاني چاروکو تر چتر او واک لاندې د خبرو سره مخالف دی، ځکه خو يې د مرې غونډه د هغوی د وياند له خوا رد شوه.
اوس داسي معلومات دي چې داځل ملا اخترمحمد منصور ته هم د پاکستان حکومت او طالبانو تر منځ رابط کس لاسرسی نه لري، تير ځل د اسلام آباد غونډې اړوند خبرونه داو چې د ملا اخترمحمد منصور په اجازه ملاعباس اخند او مولوي عبداللطيف منصور په خبرو کې ګډون کړی و.
داځل ويل کيږي کومه وعده چې د پاکستان له خوا افغان حکومت ته ورکول شوې وه چې دوېمه ناسته کي به د طالبانو استازي د هغوي په اجازه ګډون ولري او شمير به يې زيات وي، فکر کيږي چې دغه کار ستونزمن دی، او تر ټولو سخت مخالفت يې هم په قطر کي د سياسي کميسون غړي کوي.
داچې ملا اختر محمد منصور نور هغه رابط سره نه ويني کوم چې د پاکستان او دوی ترمنځ به يې پيغامونه تبادله کول، او چاته يې اجازه نه ده کړي چې د سولې اړوند خبرو کي ګډون وکړي، نو ممکن همدا لاملونه وي چې اوس داسي خبرونه نشر شول چې د ملا اختر محمد منصور سره د طالبانو د شورا د غړو اختلاف زيات شوی او د هغه صلاحيتونه به محدودو او يا خو به د طالبانو د مشرتابه څخه عزل کيږي.
دا هم امکان لري چې په پاکستان کي د طالبانو ځيني غړي سره راټول شي او اعلان وکړي چې ملا اخترمحمد منصور نور ددوی مشر نه دی، د ملامحمد عمر مجاهد د ژوند او مرګ معلومات نه کيږي، او يو بل مشر به اعلان کړي، دا به هغه کسان وي چې تير وختونو کي يي په قطر کي د طالبانو د سياسي دفتر د پرانستلو او هلته د سياسي کميسون د غړو د ټګ مخالفت کاو، دوی غوښتل چې د طالبانو سياسي دفتر په پاکستان کي جوړ شي، اوس به همدغه ډله طالبان بيا دا ږغ هم پورته کړي چې دوی د افغان حکومت سره د سولې خبرو ته حاضر دي، او داخبره به هم وکړي چې ملا اخترمحمد منصور او سيد محمد طيب اغا واک نه لري.
دابه هغه ډله طالبان وي چې په تيرو کلونو کي يې د پاکستان په وساطت په چين او روسيه کي په پټه خبرې کړي، افغان حکومت سره يې مسلسل ناستي درلودلې، کابل او کندهار ته يې پټ تګ راتګ کاو، د افغان حکومت مادي مرستې يې ترلاسه کړي.
دا به هغه لوبه وي چې له تيرو ١۴ کلونو راهيسې يې بهرنيانو، افغان حکومت او پاکستان خوب ليدی، د لنډ مهال له پاره به د بهرنيانو، افغان حکومت او پاکستان دا خوب ربښتيا شي، خو د جنګ جرړه، د امنيت خرابوالی به همداسي پاتې وي، د سولې هره هڅه به ناکامه وي.
يواځې دومره به وشي چې طالبان به ووېشل شي چې د وېشلو نښې نښاني يې دادی تر سترګو کيږي، له دی مخکي هم ملا معتصم آغا جان دغه هڅه کړي وه خو ناکام شو، ولي داځل د ملا جليل اخند په مهارت د ملا محمد حسن رحماني په مشرتوب چې ملا عبدالرزاق اخند، ملا محمد عيسی اخند او ملا محمد صادق اخند هم به هم ورسره همږغي او ملګری وي، د ملاعباس اخند اړوند د ملا اخترمحمد منصور او ملاجليل ملګری محتاط دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

دا چي ننی خبرونه د سید محمد طیب آغا د استعفی ورکول کیږي، زما په نظر همدغه لړی ده، ځکه د طالبانو په اعلامیو کې واضیح شوي چي د سولي خبرو بشپړ واک د سیاسي کمیسون سره دی، او هغوی د طالبانو مشرتابه ته مسؤولیت لري.
د سیاسي کمیسون واکونه هغه وخت لا نور زیات شول چي په مري کي د پاکستان تر فشار لاندي طالب استازي د افغان حکومت سره خبرو ته کینول شول.
اوس که د سیاسي کمیسون د واک محدودیت وي او یا دهغه استعفی وي، هغه باید د ملامحمد عمر اخند له خوا تاید شي، او ملامحمد عمر اخند خو همدي پرون خبر ورکړ چي هغه مړ دی.
که د سید طیب آغا استعفی ملا اخترمحمد منصور ته وړاندي کیږي، نو پرون خو همدا خبره کیدله چي دهغه واکونه هم تهدید شوي، او بې واکه شوي، آیا طیب اغا له دي څه نه دي خبر؟
ښکاري چي لوبه په افغانستان کي د جګړي اوږدیدو او د سولي له لاري امتیاز اخستلو له پاره روانه ده، پاکستان هم د خپل امتیاز هڅي کوي، طالب هم د امتیاز او خپلواکي هڅي کوي، افغان حکومت هم د زیات امتیاز هڅه کوي.
یوه خبره ډیره روښانه ده، که افغان حکومت د طالبانو پر سر پاکستان ته امتیازات ورکوي نو دغه پوښتنه به افغان ولس له طالب څه کوي، او راتلونکي نسلونو ته به طالب ځواب وایي. ځکه افغان حکومت خو به ووایې چي ما د طالب پر سر دغه امتیاز پاکستان ته ورکړ، که طالب سولي ته په خپله خوښه حاضریدای نو داکار مي نه کاو، بدنامي یي طالب ته ده. ولي دا پلان دی، داسي جوړ شوي چي د افغانانو دغه اوږده او لویه جګړه چي ناټو یي ماتي ورکړه په اوبو لاهو کړي، بیا څوک ونه وایي چي افغانانو ناټو ته ماتي ورکړه، داخبره به کیږي چي طالبان د پاکستان د ګټو له پاره جنګیدل او د هغوی مزدوران و.
او داخبره هم کول په کار ده که افغان حکومت او پاکستان هڅه کوي طالبان په ډلو وویشي نو بیا به د یوه ادرس پر ځای په څو ادرسونو پسي لالهانده وي، د یوې ډلي پر ځای به له څو ډلو سره مخ وي، او تر ټولو مهمه دا چي بیا به له نظامي طالبانو سره څه ډول تفاهم کوي؟
په کار ده چي د طالبانو د وېش هڅه ونه شي، د سیاسي کمیسون په ګډون په خپلواک ډول طالبانو ته حق ورکول شي چي د سولي مذاکرات په خپله خوښه پرمخ یوسي، تر ټوله لنده او اسانه لاره یې د طالبانو د قطر دفتر په رسمیت پیژندل دي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ